# Refugee Council
## help and advice

May 2008 Pushto

# د ماشومانو لپاره ښوونځي – د کهولو میندو او پلرونو لپاره د معلوماتو پاڼکۍ

- ماشومان دا حق لري چې د عمر د ۵ او ۱۲ کلونو تر منځ موده کې ښوونځي ته ولاړ شي، او د ۳ کلونو او ۳ میاشتو په عمر وړکتون ته ولاړ شي. ستاسو د زده کړې سیمه ایيزه واکمنۍ (Local Education Authority - LEA) به له تاسو سره د خپلو ماشومانو لپاره د ښوونځی په موندلو کې مرسته وکړي.
- دا یوه قانونی غوښتنه او شرط دی چې ماشومان ښوونځی ته ولاړ شي، او دا ستاسو مسوولیت دی چې ښوونځي ته د هغوی د تګ په اړه اطمینان ترلاسه کړئ. که چیرې له کوم معقول عذر نه پرته دوی ښوونځي ته ولاړ نشي، تاسو او ستاسو ماشوم کیدای شي له ستونزو سره مخ شي.
- که چیرې ستاسو ماشوم د ناروغي له کبله نشي کولی ښوونځي ته ولاړ شي، تاسو اړ یاست چې هر څومره ژر کیدای شي ښوونځي ته خبر ورکړئ.
- ښوونځي د پیل او پای خپل خپل وختونه لري. دا ډیر مهم دی چې ستاسو ماشوم په ټاکلي وخت سهارنۍ حاضرۍ ته ورسیږي.

## تاسو او ښوونځی

- دا به تاسو ته ګټور وي چې د خپل ماشوم د ښوونځی په کارونو کې ځان شامل کړئ او د میندو او پلرونو په ماښامانیو غونډو کې ګډون وکړئ او له ښوونکو سره ووینئ او د خپل ماشوم د پرمختګ په اړه خبرې اترې ورسره وکړئ. همدا رنګه ښوونځی به له نورو کسانو سره د لیدلو کتلو لپاره یو ډیر ښه ځای وي. دوی هر وخت میندو او پلرونو ته ښه راغلاست وایی او له تاسو سره په خبرو کولو به تل خوښ وي.
- ستاسو ماشوم به په منظم ډول سره کورنۍ دندې ترلاسه کوي چې هغوی یې باید بشپړې کړي. که چیرې تاسو کولای شي، نو د هغوی په کورنیو دندو کې ورسره مرسته وکړئ او دا ډاډ ترلاسه کړئ چې هغوی په کور کې کافی وخت لري چې خپلی کورنۍ دندې ترسره کړي او دا چې په وخت سره یې بشپړه کړي. که چیرې کورنۍ دندې هر وخت ناوخته سپارل کیږي او یا بشپړې نه وي، ستاسو ماشوم کیدای شي له خپلو ښوونکو سره په ستونزو اخته شي.



OISC No: N200100132
Community Legal Service

British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom

- که چیرې تاسو یا ستاسو ماشوم په ښوونځي کې ستونزې ولرئ، نو ځان ته دا معلومه کړئ چې ستاسو د ماشوم ښوونکي څوک دي. دوی به په خوښی له تاسو سره ووینی او د هر ډول اندیښنو په اړه ، چې کیدای شي تاسو یې ولرئ، درسره خبرې اترې وکړي.

## ناوړه کړه وړه

- که ستاسو ماشوم ناوړه چلند ترسره کړي، له هغوی نه کیدای شي دا وغوښتل شي چې په ښوونځي کې پاته شي تر څو اضافی دنده او یا نیمګړی کار بشپړ کړي، او یا له خپلو ښوونکو سره مرسته وکړي. دي ته ځنډونه یا توقیف ویل کیږي. که چیرې کوم ماشوم د سزا په ډول ناوخته پاته کیږي، ښوونکی باید تاسو ته ۲۴ ساعته مخکی خبر درکړي.
- بدني جزا یا وهل ډبول له قانون نه سرغړونه ګڼل کیږی او په ښوونځي کی ځای نه لري.

## اسباب او لوازم

- کیدای شي ستاسو له ماشوم نه وغوښتل شي چې د ښوونځی یونیفارم واغوندي. تاسو کیدای شي چې د یونیفارم د اخیستلو لپاره مرسته ترلاسه کړي – په دې اړه د ماشوم له ښوونځی سره اړیکي ونیسي. همدا رنګه، دوی به د بدنې روزنې (PE) د ټولګیو لپاره هم د جامو بدلولو ته اړتیا ولري. که چیرې ماشومان صحیح او وړ یونیفارم ونلری، کیدای شي له ښوونځي نه بیرته کورته ولیږدول شي.
- له تاسو نه به ښایی دا غوښتنه کیږي چې د خپل ماشوم لپاره په ښوونځی کې لومړني اسباب لکه قلمونه، پنسلونه، پنسلو پاک او خط کشونه برابر کړي. ستاسو ماشوم به همدا رنګه یوې بستې ته اړتیا ولری تر څو خپل کتابونه، د قلمونو ډبی او د بدنې روزنې د ټولګیو کالي پکښی ځای شي. د خپل ماشوم له ښوونځی سره په تماس کې شي او ځان له دا معلومه کړي چې کوم شیان باید تاسو ورته برابر کړي.

## د غرمې ډوډۍ

- ستاسو د ماشوم ښوونځی به ستاسو ماشوم ته د غرمې توده ډوډۍ ورکوي. دا د هغو ماشومانو لپاره چې د پناه اخیستلو غوښتنه یې کړې وي، وړیا دي. که چیرې تاسو په بریتانیه کې د پاته کیدلو اجازه لرئ، تاسو کیدای شي د ډوډې یا خوړو لپاره د پیسو ورکولو لپاره مرسته ترلاسه کړي - مهرباني وکړي او د نورو معلوماتو لپاره له خپل ښوونځي نه پوښتنه وکړئ. یوه بله لاره دا ده چې تاسو خپل ماشوم ته د غرمې ډوډۍ، چې سړه تاسلیې شوي وي، ورکړي تر څو هغه یې له ځان سره ښوونځي ته یوسي.

## ښوونځی ته تلل

- که چیرې تاسو د خپل ماشوم له ښوونځي نه ډیر لرې استوګن وئ، تاسو کیدای شي ښوونځي ته د هغوی د تګ راتګ د مصارفو لپاره مرسته ترلاسه کړي. د نورو معلوماتو او تفصیلاتو لپاره له خپل ښوونځي او یا هم د زده کړو له سیمه ایيزې واکمنۍ سره اړیکي ونیسي.

## ځورونه (Bullying)

- ځورونه، که هغه فزیکی وی یا لفظي، یو زیانمن او ناوړه سلوک دی. که چیرې ستاسو ماشوم له هر ډول ستونزو ، لکه ځورونې په اړه په ښوونځی کې ستونزې لري، او یا هم تاسو په دې اړه کومه اندیښنه لرئ، دا ډیره مهمه ده چې تاسو په دې اړه له خپل ماشوم او د هغوی له ښوونکو سره خبرې وکړئ. هڅه وکړئ چې د ښوونځي د ځورونې ضد پالیسي په اړه ځان خبر کړئ او له ښوونځي او ښوونکو سره په ګډه کار وکړې چې د مسلې په حل کې مرسته وکړي. له دې نه مه ویریږي چې مسله تر هغه پورې وڅیړي چې تاسو او ستاسو ماشوم د هغې د نتیجې په اړه خوښ او راضي یي. که تاسو هر ډول اندیښنه لرئ، تاسو همدا رنګه کولای شي چې د مشورې او معلوماتو لپاره پارنټلاین پلس (Parentline Plus) ته په دې شمیره 2222 800 0808 ټېلیفون وکړئ.

## د ماشومانو پاملرنه یا ورکتون

- ستاسو په سیمه کې کیدای شي د ماشومانو د پاملرنې او کورنۍ ملاتړ مرستي موجود وي. د هغوی په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره تاسو ته ښایې چې خپل سیمه ییز د ماشومانو د معلومات مرستي (Children’s Information Service) ته ټیلفون وکړئ. د هغوی د ټیلفون شمیره کولای شي چایلډ کیر لنک (ChildcareLink) ته د هغوی د وړیا ټیلفون شمیري 6346 234 0800 باندې ټېلیفون کولو له لارې ترلاسه کړئ.